**د دې برخه: د څارويو نظم او اداره**

**لومړی لوست: د کورنيو څاروي د اوسېدو لپاره د مناسب ځای اړتياوي**

د زده کونکو د زده کړې موخې: د دې لوست موخې باید لاندې موخې زده کونکو ته وړاندې کړي:

1. د غواو د اړتيا وړ وسايل روښانه کړئ.
2. د اوزو او مېږو د اړتيا وړ وسايل لست او تشريح کړئ.
3. د الوتونکو د پالنې د اړتيا وړ وسايل تشريح او روښانه کړئ.

## سپارښت شوی وخت:درې ساعته(ګړی).

د زېرمو لست: لاندې زيرمې به د دې لوست په لوستلو کې ګټوري وي.

Ensminger, M., Animal science. Danville, Illinois: Interstate publishers, Inc. 1991

Jackson, Nzncy S., Greer, William J., and Baker, James K. Animal Health. Danville, lllinois: Interstate publishers, Inc. 2000

Internet keyword: livestock housing, dairy housing, beef housing, sheep and goat housing and poultry housing

## د وسايلو، لوازمو، سامانونو او زېرمو لست

| | |
|---|---|
| Writing surface | د لیکنې په خاطر صفحه |
| PowerPoint projector | پروجکتور (غټ ښودونکی) پاورپواینټ |
| PowerPoint slides | د پاور پواینټ سلایدونه یا صفحې |
| Transparency Masters | د روښانه کولو ورقې |
| Copies of student lab sheet | د زده کونکو لپاره د لابراتواري ورقو کاپي LS: 1 - 1 |
| Paper | کاغذ |

اصطلاح ګانې:په دې لوست کې لاندې اصطلاح ګانې وړاندې کيږي(په ايټاليک ډول باندې په ښه شوې دي) **د پاور پواينټ ۲ نمبر سلايډ.**

| | |
|---|---|
| Cold housing | د يخولو په خاطر خونې |
| Flat milking barns | د شېدو لوشلو لپاره د غوجلې ودانۍ |
| Intensive grazing | څرول په پیاوړتیا سره |
| Milking parlors | د شېدو لوشلو سالونونه (ګراجونه) |
| Warm housing | تودونکې خونې |
| Free stall Facilities | د ازادو اخورو وسايل |
| Open Housing | خلاصې ودانۍ |
| Coop | پنجره يا مرغانچه يا د الوتونکو لپاره کوټه |
| Ventilation | د هوا پاکېدل يا بدلېدل |

په زړه پوري يا د خوښې وړ رول: د په زړه پوري تګلارو يا رولونو څخه ګټه واخلئ تر څو چې زده کونکي د لوست لپاره تيارشي.ښوونکي اکثره په ټولګيو کې د ځانګړو زده کونکو لپاره په زړه پوري تګلاري غوره کوي ترڅو چې زده کونکي د زده کړې لپاره تيارکړل شي ځنې له دوې څخه په لاندې توګه دي.

1. د يو څاروي د لېدني په خاطر يوه علمي دوره. د خاوند څخه يې د هر اطاق او دهغې د استعمال په اړوند پوښتنه وکړئ. هر يو زده کونکي بايد مخکې د علمي سفر څخه دري سوالونه جوړ کړي. د بيرته تګ پرمحال دهغه سوالونو په مورد کې چې د سفر په دوران کې ورته ځوابونه ونه ويل شول بحث وکړي او خپل نظرونه سره شريک کړي.

## د لست اخري موخه او دمضمون لنډيز

**لومړۍ موخه:** د غواو د اړتيا وړ وسايل تشريح کړئ.

***اټکل شوي ستونزه:*** د غواو د پالنې لپاره کوم وسايل اړين دي ؟

له زده کونکو څخه غوښتنه وکړئ چې دخپل ژوند ورځانه اړتياوي لست کړي. د هغه شيانو څخه چې په لست کې شتون لري کوم يو ډېر مهم دي؟ يو د هغوي څخه د ژوند دتيرولو ځای دی. دا په اوله موخه کې ځای په ځای کړئ.

1- د اړتياو وړ وسايل ستاسي د توليدي سيستم پوري اړيکه لري.

A. لومړی هغه شی چې د غواو په پالنه کې په نظر کې نيول کيږي د هغوي د اوسېدو له ځای څخه عبارت دی. تاسي بايد اطمناني اوسئ چې اوبو، څرځای او نورو اسانتياوو ته لاسرسی ولری. **د پاور پواينټ ٤ نمبر سلايد**

B. تاسي بايد په هغه ځای کې فارم جوړ کړئ چې دراتلونکوتغيراتو او انکشافاتو په اړوند بايد چې فکر وکړئ. له زده کوونکو وپوښتئ چې ولې د دې مسلې روښانه کول مهم دي.

C. که چېرې د کټارو لپاره اړتياشتون ولري نوبايد هغه ښه غښتلي وي تر څو چې د څارويو څخه ساتنه وکړی شي. په ځنې ځايونو کې د برقي، له لرګي جوړ شوو، نيلوني کټارو او اغزن تارونو څخه ګټه اخستل کيږي. د مزرعي د ټيګو څخه هم د کټارو په جوړونه کې کاراخستل کيږي. دروازې بايد په ښه ځای کې وي داسې چې په اسانی سره ورته لاسرس وشي.

**D.** د څارويو د هر نوعه توليدي سيستم په خاطر اوبه د ډېر اهميت لرونکي دي. **د پاور پواينټ ٤ نمبر سلايد**

E. د خوراکي لوښي دې په داسې ځای کې ځای پرځای شي چې غواوي مالګو او منرالي موادو ته لاسرسی ولري. د خوراکي ترمنځ لازمي فاصلې ته اړتيا لېدل کيږي ترڅو ټول څاروي په عين وخت کې د هغې څخه ګټه واخلي. که چېرې ټول څاروي په عين وخت کې ورڅخه ګټه وانه خلي کيدای شي يو تعداد وړې پاتې شي او په غير له خوراکي څخه پاتې شي.

F. د خوراکي زيرمه کول زيات اړين دی. ترڅو په پاکه توګه سره زيرمه کړل شي او د زياتې ضايع څخه مخنيوي وشي. په لويو توليدي سيستمونو کې د عمودي سالونونو، د خوراکي اطاق، ژورو سيلو ګانو او بيلري فلزي زيرمو څخه ګټه اخستل کيږي البته هر يو له دې څخه د خوراکي په نوعيت او د څاروي په پالنې پوري اړيکه پيداکوي.**د پاورپوراينټ ٥ او ٦ نمبر سلايدونه**

**G.** همدرانګه د څارويو دپالنې لپاره يو شمير وسايل او لوازمو ته هم اړتيا لېدل کيږي، دڅاروي او دهغې د خاوند د ساتنې او حفاظت لپاره د قېدولو الې ته اړتيا شتون لري ترڅو د داغولو، واکسين او تداوی په وخت کې له هغې څخه ګټه واخستل شي. همدارنګه د قيدولو له الې څخه د حمل او نقل په وخت کې هم ګټه اخستل کيږي او اړينه ده .**دپاور پواينټ ٧ نمبر سلايد**

**H.** موجوده زيرمي او د تعميراتي موادو نوعيت د څارويو د اوسېدو ځای تعينوي. نو ددې په خاطر د دلايلو په خاطر يو لست جوړ کړئ چې په هغې کې نوي ودانی ستاسي اړتياو ته ځواب ووايي. اطاقونه بايد غواوي د يخنی او ګرمی څخه وساتي. که چېرې د غواو د اوسېدو ځای له نورو څارويو څخه جلا وي په دې صورت کې بايد اوبو او نورو لازمه فاصلو ته توجه وکړل شي. د اطاقونو دوه بيلګي(ودانی) چې دغواو لپاره تر استفادې لاندې نيول شوي توجه وکړی. **په ٨ نمبر سلايد کې هغې ته اشاره شوی ده.**

**II.** د شيېدو ورکونکو غواو د صنعت د ښه موثره کارکولو لپاره وسايل، لوازم، د شيېدو لوشلوځای د خوراکي لوښي د مهمو عواملو څخه ګڼل کيږي چې بايد ورته پاملرنه وشي.**دپاور پواينټ ۹ نمبر سلايد**

A. د اوسيېدو د ځای د حفاظت په ډول د څاروي او انسان دواړو لپاره مهم دي. ولې څرنګه چې د پالنې لوی تجارت صنعت زيات کار ته اړتيا لري نو په دې توګه اړينه ده چې چاپيريال ارام په نظر کې ونيول شي.

1. **Cold housing (د يخولو خوني):** دا اصطلاح هغه جوړښتونو ته استعماليږي چې د ژمې پرمحال هغې ته حرارت يا تودوخه نه ورکول کيږي يعني تودولو ته اړتيا نه لري.

2. **Warm housing (تودې خوني):** دا اصطلاح هغه ساختمانونوته استعماليږي چې د ژمې پرمحال هغې ته تودوخه ورکول کيږي تر څو تاوده کړل شي. تودي خوني کيدي شي چې غوجلې يې ازادي او عايق لرونکي وي، تودونکي خوني همدارنګه تړلو غوجلو ته چې د تړلو اخورو لرونکي وي ويل کيږي. د ځوانو خوسکو لپاره پنجري او د ځوان مورني سټاک لپاره او وچو غواو لپاره د خلاصو غوجلو څخه ګټه اخستل کيږي، هغه شيېدې ورکونکي غواوې چې په څرځای کې په ازاده توګه څرول کيږي بايد د زياتي ګرمی، زياتي يخنی او سختو بادونو څخه په امن کې وي. **دپاور پواينټ ۱۱نمبر سلايد.**

B . د لبنياتو(شيېدي او د هغې حاصلات) د توليېد لپاره د شيېدو دلوشلو لپاره وسايل ډېر مهم دي.
**Flat milking barns**: د هغه غوجلو څخه عبارت دي چې دهغې په اخورو کې د شيېدو غواوي لوشل کيږي.
**Milking parlors**:د هغه کانکريټي ساختمانونو څخه عبارت دي چې د لوشلو لپاره د سالونونو لرونکي وي. ځنې پالنځايونه دومره لوی دي چې داسې سالونونه لري چې ۱۰۰ شيېدې ورکونکي غواوي په يو وخت کې په هغې کې لوشل کيږي او د ا ودانی په اوه ورځو کې د ۲٤ ساعتونو لپاره فعال وي.**د پاور پواينټ ۱۲ او ۱۳ نمبر سلايدونه.**

C: د غوښينو او شيېدو ورکونکو دواړه نوعو غواوو لپاره د خوراکي د سيستم لرل اړين دي. د زيرمه ځای د ټاکني پرمحال د خوراکي موثريت، تمام شوی قيېمت د مهمو عواملو له جملې څخه ګڼل کيږي. د خوراکي ټولي نوعي جې زيرمه کيږي لکه جوار، سايليج، هايليج، وچه ګياه، وچ واښه، منرالونه او دانه لرونکي، د سايليجو بوجی، عمودي سيلوګاني او فلزي زيرمه کونکي خوني د هغه ځايونو له جملې څخه دي چې په هغې کې خوراکه زيرمه کيږي.**د پاور پواينټ ۱٤ نمبر سلايد.**
**Intensive grazing**:په يو څرځای کې د څارويو د څرولو لپاره د ۲٤-٤۸ ساعتو لپاره او وروسته يې د دوي وړل بل څرځای ته . دا نوع سيستم د ځړ زيات کار او کارګر ته اړتيا لري ليېکن په مقابل کې زيرمه کونکو خونو ته کمه اړتيا لري. د خوراکي کراچی، لاری موټر، کمپيوټري د خوراکي لوښي او غير کمپيوټري لوښي او نورعصري تخنيکونه ددې سبب کيږي ترڅو دخوراکي سيستم اسانه کړي او په کم وخت کې سرته ورسيږي.**دپاور پواينټ ۱۵ نمبر سلايد.**

D: څرنګه چې شيېدې ورکونکي غواوي په ورځ کې ۸ فيصده د خپل وزن فضله مواد توليېدوي نو په دې بنا د څارويو د ښه پالنې په خاطروسايلو ته ډېره اړتيا ليېدل کيږي. ټول په ټوله کې د څارويو د سرو(کود) کاروبار دري لاندنی وظيفي سرته رسوي .

1. څاروي پاک وساتئ.
2. د څارويو د سرو(کود) راټولول د کارګرانو لپاره اسانه تماميږي.
3. فضله مواد په ښه طريقي سره ترتيبوي.

E . د څارويو د سرو (کود) دوه نوعه سيستمونه شتون لري.

1. د څارويو د سرو(کود) جامد سيستم

2. دڅارويو د سرو(کود) مايع سيستم
دواړه سيستمونه هم ګټي او هم تاوانونه لري، اما لوي توپير په دې کې دی چې مايع سيستم ډير موثر دی.**د پاورپواينټ ۱۷ نمبر سلايد**

LS استعمال کړئ 1-1 او زده کونکي دي د څارويو د سرو(کود) په اړه تحقيق وکړئ چې دا کار د راتلونکی لوست دپيل لپاره چې عبارت دی له د څارويو د فضله موادو نظم او اداري څخه، يو ښه پيل به وي.

**دوېمه موخه:**هغه وسايل چې د اوزو او پسونو لپاره اړين دي لست او توضيح کړئ.
***اټکل شوې ستونزه:*** د اوزو او پسونو د پالنې لپاره کوم وسايل اړين دي؟ له زده کونکو پوښتنه وکړئ چې ځنې وسايل کوم چې د غواو د پالنې لپاره اړين دي په ياد راوړي. ځنې له دې شيانو څخه په يوه صفحه کې وليکي. وروسته له زده کونکو وپوښتي چې دا وسايل د اوزو او پسونو د وسايلو غوندې دي يا دا چې توپير لري خپل ځوابونه دې روښانه کړي.

**III)** : اوزې او پسونه د سرسخته څارويو له جملې څخه دي او دنورو څارويو غوندې د چاپيريال حفاظت ته دومره اړتيا نه لري. د اوزو او پسونو پالنه قيېمته نه تماميږي له دې خاطره چې قيېمتي ساتنځايونو ته اړتيا نه لري، البته تر اوسه هم ځنې شيان شتون لري چې تاسې به دهغې پالنې ته اړتيا ولرئ.**د پاور پواينټ ۱۸ نمبر سلايد**

A :د اوزو او پسونو لپاره د اوسېدو ځای نظر د پالنې شرايطو او هوا ته توپير کوي. داسې سپارښت کيږي چې د اوسېدو ځای(غوجله) بايد داسې جوړ کړل شي چې جنوب لوري ته خلاصه شي دا کار لمر ته اجازه ورکوي چې يخه هوا د ګرموالی لپاره اطاق ته د داخليدو لپاره اجازه ورکړي.همدارنګه د ارام ځای، څرځمکی او اوبو ته دلاسرسي په خاطر اړتيا لېدل کيږي.

Free stall facilities: د شيدو ورکونکو اوزو لپاره ودانيږي، خلاص اطاق د سيرلو او يو کلنو اوزو لپاره استعماليږي. هغه اوزې چې په بند يا تړلی ځای کې ساتل کيږي نو بايد چې ښکرونه يې لرې کړل شي.**د پاور پواينټ ۱۹ نمبر سلايد**

B: کټاره بايد چې (۱،۵) متره لوړوالی ولري او د اوزو او پسونو ترمنځ بايد د ۱۰-۱۳ سانتي مترو په اندازه د جلاوالی طناب شتون ولري. دا مهمه ده چې طبيعي دښمنان(داړونکي څاروي) د فارم يا غوجلې څخه بيرون وساتل شي نسبت دې ته چې څاروي په داخل د غوجله کې وساتی .**د پاور پواينټ ۲۰ نمبر سلايد**

C:د پالنې د سيستم په نظر کې نيولو سره، د احاطې لپاره جالی، د قيچي کولو سامان الات او د اوزو او پسونود سوم د غوڅولو او د حاملګی د ازمايښت او د القاح لپاره ځانګړی ځای ګټور تماميږي .

D:بايد چې ځان اطمناني کړی چې دتولو څارويو لپاره مناسبه فاصله په نظر کې ونيول شي. زده کونکي دې يوه ازمايښتي کټاره د نمايش لپاره جوړه کړي. دوې کولې شي چې مواد د کټارو د جوړولو لپاره د کور څخه راوړي. ځان اطمناني کړئ چې زده کونکي د څارويو اړتياو ته توجه وکړي باالخصوص د دالونکو څارويو مهارکولو د فارم څخه بيرون. وروسته له دې زده کونکی دې خپل کار د بل هم ټولګيوال سره شريک کړي او روښانه دې کړي چې ولې دوي داسې کټاره انتخاب او جوړه کړي ده.

**دريمه موخه:** د الوتونکو د پالنې په اړوند د اړتيا وړ وسايلو باندې رڼا واچوئ.

**اټکل شوي ستونزي:**د الوتونکو د پالنې لپاره کوم وسايل اړين دي؟
له زده کونکو څخه وپوښتئ چې د لويو څارويو لکه غوا، پسه او کوچنيو څارويو لکه الوتونکو د پالنې په ځای کې کوم توپير شتون لري؟
IV.د الوتونکو لپاره د اوسېدو ځای يا پنجره د الوتونکو د پالنې د طرز او فاصلې د اندازې په بنا په ساحه ټاکل کيږي. شتون لرونکي جوړښتونه کولی شی د الوتونکو دپالنې په ځای باندې تبديل کړی.

کله چي تاسي د الوتونکو لپاره وسایل تیاروئ، نو باید چي دا شیان په نظر کي ونیسئ. **د پاور پواینټ ۲۲ نمبر سلاید**

protection A یا ساتنه(حفاظت):

1.د الوتونکو لپاره یوه ښه او په زړه پوري ودانۍ ستاسي الوتونکي له ځنیو عناصرو لکه هوا، داړونکو ځاروی، زخمي کېدو څخه ساتنه کوي. الوتونکي د وچ او داسي ځای لپاره چي باد ونه لري اړتیا لري، مرغانچي باید لرونکي د کړکیو، دروازو وي ترڅو دهوا په تبدیلی کي د اړتیا پرمحال مرسته وکړي.

A. COOP پنجره یا مرغانچه: د الوتونکو لپاره د یو واحد ځای عبارت ده، پنجره په روښانه او یو داسي ښه ځای کي جوړه کړئ چي د دوامداره لمدوالی او داوبو د څڅېدلو څخه د اطاق نه دباندي مخنیوي وکړی شي. د پنجري مخکنی لوري او کړکی د جنوب په لوري ولړوئ چي په دې اساس د پنجري داخل او فرش تود او وچ وساتي. د یو واحد چرګ لپاره خپله معینه اندازه فاصله په دې کي مرسته کوي ترڅو تر ډېره حده د پنجري لمدوالی کم کړي.**د پاور پواینټ ۲۳ نمبر سلاید**

2 . د دې لپاره چي الوتونکو ته د داړونکو ځارویو څخه خلاصون ورکړو باید چي مرغانچي او نور لښتي یا لاري په بشتړ ډول بند او بسته کړل شي.که چېري نوي ودانۍ جوړوئ نو په دې صورت کي فرش کانکریټ او دیوالونه د یوې څخه تر دوه خښتو پوري پاخه په نظر کي ونیسئ، دا د دې سبب کیږي چي د موږکانو، مارانو او داړونکو ځارویو څخه مخنیوي وشي او هغوي نه شي کولي چي فرش یا دیوال سوری کړي. دروازي او کړکی باید د جالیو په واسطه چي سیمي جوړښت ولري، پوښ کړئ او د دروازي د خلاصون پرمحال باید چي د جلا جالی لرونکي وي.

3. لږ ترلږه یو سیم د (۳۰) سانتي مترو په ژوروالی د مرغانچي په اوږدوالی خښ کړل شي او د (۱۵) سانتي مترو په اندازه کټاره بیرو لوري ته ټیک وهل شي. دا کار ددي باعث کیږي چي داړونکي ځاروي د کټاري لاندي طبقه نه شي سوری کولی. ددې په خاطر د باز او ګونګي د ننوتلو څخه مخنیوي وکړو بیروني لښتي یا لاري د اغزنو جالیو په واسطه پوښ کړئ. هغه ځمکه چي سطحه یي د نباتاتو د ریښو او یا پاڼو پواسطه پوښل شوي وي نو د غیره الوتونکو د پټنځای لپاره زمینه برابروي. **دپاور پواینټ ۲۴-۲۵ نمبر سلایدونه**

B. مناسبه فاصله یا Adequate space: دارد الوتونکي یا چرګان د اوسیدو او همدارنګه د هګۍ ورکولو ځای اوناستي ځایونو لپاره مناسبي فاصلي ته اړتیا لري. د فاصلي اړتیا نسبت الوتونکو ته چي تاسي یي د پالني په خاطر غوره کوئ توپیر لري.

## د لږ ترلږه فاصلي اړتیا

| د چرګ نوعه | سانتی متر مربع \ في قطعه چرګ په داخل کي | سانتی مترمربع \ فی قطعه چرګ په خارج کي |
|---|---|---|
| وړوکی جنګي چرګ | 30.48 | 1.22 |
| هګۍ ورکونکي چرګي | 45.72 | 2.44 |
| غټ چرګان | 60.96 | 3.05 |
| Quip | 30.48 | 1.22 |
| طاوس | 152.40 | 7.62 |
| مرغابۍ | 91.44 | 4.57 |
| قاز | 182.88 | 5.49 |

**د هګۍ ایښودو ځای:** د (٤-٥) واحدو چرګو لپاره کم ترکمه یو د هګۍ ایښودو ځای باید برابر کړل شي. **د پاور پواینټ ٢٦ نمبر سلاید**

C. خوراکي او اوبو ته لاسرسی

1. دخوراکي لوښي او د اوبو لوښي د الوتونکو په اطاق کې په یو مناسب ځای کې ځای پرځای کړي ترڅو ټول الوتونکي هغې ته لاسرسی وکړی شي. د اوبو د لوښو ښکتنی برخه او دخوراکي لوښو پورتنۍبرخي د الوتونکو دملا د لوړوالي پوري کیږدئ چې په دې صورت کې د خوراکي لوښي او داوبو لوښي پاک ساتل کیږي او له ضایع کېدو څخه مخنوی کیږي.
2. واړه الوتونکي لکه کوترې، مرزان او جنګي چرګان اوږدو د خوراکي لوښو(linear) ته د (٢،٥) سانتي مترو په فاصله د یو واحد چرګ لپاره او لوی چرګان د (٥،٨) سانتي مترو په فاصله د یو واحد چرګ لپاره اړتیا لري.
3. د امکان په صورت کې د خوراکي لوښي د محوطې څخه د باندې کیږدئ په ځانګړي توګه د هغه الوتونکو لپاره چې آبي دي یا اوبه خوښوي. دا کاردپنجري په دننه کې د لمدوالی څخه مخنیوی کوي.**د پاور پواینټ ٢٧ نمبر سلاید**

**دنور یا رڼا زیرمي:** د کړکیو ایښودل بیرون لوري ته د روښنائۍ لپاره یوه ښه زیرمه ده په ژمي ګرمي او په وړي کې د هوا د بدلېدو سبب کیږي.**دپاور پواینټ ٢٨ نمبر سلاید**

E. **<u>دهوا د جریان بدلونه ventilation</u>**

1. د ګرد نه لرونکي هوا د جریان لپاره اړتیا شتون لري. ددې لپاره چې اکسیجن اطاق ته داخل او لمدبل او امونیا او کاربن ډاي اوکسایډ بیرون لوري ته خارج کړل شي، یوه ښه زمینه مساعدوي. او همدارنګه د اطاق د زړې هوا په ویستلو کې مرسته کوي. د امونیا، لمدبل شتون د هوا د جریان د نه شتون څخه نماینده ګي کوي د وړو پنجرو لپاره یوه کړکۍ په یوه لوری کې د هوا جریان په کافي اندازه کوي. په هغه صورت کې چې جریان د هوا شتون ونه لري لمدبل په هوا کې یخ او د پنجرې په چت او دیوالونو کې راټولیږي. د اطاق د وچېدو په صورت کې الوتونکي کولی شي په نسبي توګه یخه هوا تحمل کړي. اما لمدبل او یخ شرایط د صحت په وړاند ستونزي جوړوي. کړکۍ د باد په مقابل لوري نصب کړئ ددې کار لپاره اکثره د جنوب او شرق لوري مهم دي.**دپارو پواینټ ٢٩ نمبر سلاید**

د دې لوست د اخري فعالیت په حیث زده کونکي دي یو د ځارویو د وسایلو او اسانتیاوو څخه تر بحث لاندې ونیسي او هغه دې جوړ کړي. زده کونکي کولې شي نورو مواد د دې کار د منځ ته راوړلو په خاطرپکاریږي، برابر کړي. او یا که امکان ولري هغه په خپل کمپیوټر کې جوړ کړي. باید چې اطمنان حاصل کړل شي چې زده کونکي د ټولو حیواني وسایلو جنبې شاملي کړي دي.

لنډیز\تکرار. د زده کونکو د زده کړې دموخو څخه د لنډیز لپاره ګټه واخلئ.

زده کونکي دي هغه موادو لست جوړ کړي چې د غواو د خرصلاو لپاره اړین دي. وروسته بحث وکړي دهغه وسایلو څخه چې د اوزو او پسونو لپاره په کار وړل کیږي. بالاخره د الوتونکو د پالني لپاره مناسب وسایل تشریح کړي.

**عملیه:** د زده کونکو د فعالیتونه د لابراتواري مواد په شمول په دې عملیه کې شامل دي.

**ازمایینت:** ازمایښت باید د زده کونکو په لاسته راغلو موخو باندې متمرکزه وي. د مختلفو تخنیکونو څخه دې گټه واخستل شي. د بیلگي په توگه د لیکلي بني ازمویني نمونه چې په دې ځای کې لیډل کیږي.

د نمونه ئي ازمویني لپاره ځوابونه

**اول پرتله ئي برخه**

1=e
2=a
3=d
4=b
5=f
6=c

دوېمه برخه:بشپړول

1. 1.5متر
2. ځوان خوسکي، وچې غواوي
3. فاصله
4. د هوا بدلېدنه

درېمه برخه:لنډ ځوابونه

1. د ځارویو پاک او صفا ساتل
2. په ټولي توگه د لابراتواري موادو برابرول
3. په مطمئینه توگه د فضله موادو یا مدفوع ځای په ځآی کول

نمونئي ازموینه 1-1

نوم.......................................................

**ازموینه**

**اوله برخه: پرتله کول**

*لارښووني:* د صحیح ځواب پروړاندې اصطلاح گاني پرتله کړئ د اصطلاح توري د تعریف په مقابل کې ولیکئ.

**a.** Cold housing یا دیخولو خوني    **c.** Fat milking barns .د شیدو لوشلو بلاک دوله غوجلې

**b.** Proper ventilation یا د هوا مناسبه تبادله    **d.** Warm housing یا تودونکي خوني

**e.** Intensive grazing یا په پیاوړي توگه څرول    **f.** Coop . یا مرغانچه یا پنجره

1. .......... هغه وخت چې غواوي د ۲٤ ساعتونو لپاره په يو ځرځاى کى او وروسته بل ځړ ځاى ته وړل کيږي.
2. .......... هغه اطاقونه چې د ژمي پرمحال ورته تودوخه نه ورکول کيږي.
3. ......... هغه اطاقونه چې د ژمي پرمحال تودوخې ته اړتيا لري .
4. ......... د الوتونکو د مناسبې نمو لپاره اړين دي.
5. ........ د الوتونکو لپاره مناسب د اوسېدو ځاى.
6. ......... هغه غوجلې چې په هغې کې غواوي په سالونونو کې لوشل کيږي.

**دوېمه برخه:بشپړول**

*لارښوونې*: د لاندې جملو د بشپړولو لپاره مناسب لغاتونه په تشو ځايونو کې وليکئ.

1. کتاري اړتيا لري ......................... متر يا لوړوالي او ۱۰-۱۵ سانتي مترو فاصلې ځاى ته د پسونو او اوزو ترمنځ بايد وي.
2. دخوسکو صندقونه د ......................... خلاص اطاق د ځوانو خوسکو داوسېدو لپاره پا ................................ استعماليږي.
3. تل ځان اطمناني کړئ چې تاسې په کافي اندازه ......................... د ټولو څارويو د اراموالى لپاره په نظرکې نيولي وي .
4. د ناروغى د تودوخې د درجې د کنترول، د اضافي تودوخې او رطوبت کولي شوچې د .........................په واسطه کنترول شي.

**درېمه برخه:** لنډ ځوابونه
*لارښوونې:*دلاندې پوښتنو لپاره معلومات ورکړئ.
د څارويو د سرو(کود) لپاره ټول سيستمونه د دري موخو لپاره استعماليږي.

.1

.2

.3

LS: 1 - 1
نوم ........................................

## دلابراتوار ورقه

**د څارويو د سرو(کود) د ځاى په ځآى کولولپاره مقررات او کړنلاري**

**موخه:** د څارويو د سرو(کود) دکاروبار پرمحال دهغې د اصولواو مقرراتو په هکله تحقيق دې وکړل شي.

**طرېقه يا کړنلاره:**
يو دوه ورقئي راپور وليکئ چې په هغې لاندې مسايل مخاطب شوي وي.

تاسو په محله کې دڅارویو د سرو(کود) د ځای په ځای کولو لپاره کوم اصول شتون لري؟

د څارویو د سرو(کود) د ځای په ځای کولو لپاره په ملي توګه کوم رول شونه شتون لري؟

ولې مونږ دا اصول مخکې وړو؟

د څارویو د سرو(کود) څخه ګټه اخستنه کومه ده؟

ستاسې په عقېده د څارویو د سرو(کود) د ځای په ځای کولو لپاره مقررات اړین دي او که نه؟